**بسم الله الرحمن الرحیم**

# په اسلام کې د عکاسۍ حکم

## ژباړه

پوښتنه:

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

زه احمد وسام الهشلمون د حزب التحریر له شبابو یم. زه یو څو پوښتنې لرم؛ هیله ده چې را ته ځواب به یې کړئ.۱: په اسلام کې د انځورګرۍ (رسامۍ) حکم څه دی؟ ۲- د انسان د وجود د غړو د رسمولو حکم څه دی؟ ۳: او آیا د مجسمه جوړونې حکم پر رسامۍ هم پلی کیږي؟ ډېره مننه.

ځواب:

وعلیکم السلام و رحمة الله و برکاته!

مخکې مو د رسم (تصویر) په هکله بشپړ ځواب وړاندې کړی و، شاید تاسو خبر نه یاست، هغه ځواب ټول هغه موضوعات را نغاړي چې تاسو یې په اړه پوښتنه کړې او دغه راز د موضوع اړوند نور موضوعات هم پکې شته... د هغه ځواب متن درته را نقلوم:

«د رسم (تصویر) په اړه تر ځواب وړاندې پر څو موضوعاتو ټینګار کوو:

۱: هغه ځوابونه چې لاندې یې ذکر کوو د تصویر یعنې په لاس سره د رسامۍ د شرعي حکم په اړه دي، همدا هغه معنا ده چې په احادیثو کې راغلې ده، نه د الې (کامرې) په واسطه تصویر (عکس)؛ ځکه هغه (د کامرې عکس) مباح دی او احادیث پرې نه تطبیقیږي.

۲: لاندې ځوابونه د هغو مستوي مسطحو (اوارو) تصویرونو په اړه دي چې سیوری نه لري، چې دغه ځوابونه د پوښتنې اړوند ټولو فروعاتو په اړه تفصیل را نغاړي.

۳: خو سیوری لرونکی تصویر؛ یعنې جسدونه چې تاسو په پوښتنه کې د «نحت» یا مجسمې په نامه یاد کړي، د هغې حراموالی واضح دی او د ځواب په پای کې یې وړاندې کوو...

**لومړی: رسم (تصویر) چې سیوری نه لري؛ یعنې د مستوي او مسطح تصویرونو اړوند پوښتنو ځوابونه له خپلو مختلفو فروعاتو سره:**

- **د لومړۍ او دویمې پوښتنې په اړه:**
  - ❖ د تصویر ایډیټ او بدلون ( لکه د مخ د ګونځو لرې کول، د سترګو د رنګ بدلول یا د څېرې د ځینو ځانګړنو بدلول او ...).
  - ❖ واقعیت ته نږدې د انسانانو او حیواناتو د شکلونو انځورول...

دغه دواړه پوښتنې د ذیروح (سا لرونکو) شیانو په رسمولو یا د ذیروح شیانو په تصویرونو کې د لاس په واسطه ایډیټ او بدلون راوستلو لکه د ګونځو لرې کول او د مخ د ځینو ځانګړتیاوو بدلولو اړوند دي... دا هغه څه دي چې په دلایلو کې راغلی تحریم پرې تطبیقېږي، توپیر نه کوي که دغه رسم د لاسي قلم په واسطه وي او که د کمپیوټر پر سکرین د موس د کارولو په واسطه وي. هر ډول د ذیروح شي رسامي او انځورګري چې د انساني هڅې پایله وي، نو تحریم پر هغه تطبیق کېږي. بخاري له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی، هغه ویلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَنْ صَوَّرَ صُورَةً فَإِنَّ اللَّهَ مُعَذِّبُهُ حَتَّى يَنْفُخَ فِيهَا الرُّوحَ، وَلَيْسَ بِنَافِخٍ فِيهَا أَبَدًا.»**

*ژباړه: چا چې تصویر انځور کړ، نو الله تعالی به تر هغه پورې عذاب ورکوي، تر څو یې چې په هغه کې روح نه وي اچولی، په داسې حال کې چې هغه هیڅکله (په تصویر کې) روح نه شي اچولی.*

همدا شان له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، هغه ویلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«إنَّ الَّذِين يَصْنَعونَ هذِهِ الصُّورَ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَة، يُقَالُ لهُم: أحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ.»** (متفق علیه)

*ژباړه:بېشکه، هغه کسان چې دغه تصویران جوړوي، دوی ته به د قیامت په ورځ عذاب ورکول کېږي، دوی ته به ویل کېږي: هغه څه ژوندي کړئ چې خلق کړي مو دي.*

- **د دویمې او درېیمې پوښتنې په اړه:**
  - ❖ د چاپ شویو تصویرانو او انځورونو کارول.
  - ❖ د هغو تصویرانو، انځورونو یا لوګوګانو کارونه چې د نورو ډیزاینرانو لخوا ډیزاین او جوړ شوي وي، نه د کاروونکي لخوا.

یعنې د نورو خلکو د انځور کارونه چې خپله شخص نه وي انځور کړي، پر دغو باندې د انځورونو د راټولو او ساتلو حکم پلی کیږي او په درې ډوله دي:

الف: که چېرې دغسې تصویر (چې له بل چا څخه دې اخیستی وي) د عبادت په ځایونو کې د کارونې لپاره وي، لکه جاینماز یا د مسجد پردې یا د مسجد لپاره اعلان او اشتهار او داسې نور... نو دا کار حرام دی او جواز نه لري. د دې دلیل دا دی چې له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تر هغه پورې کعبې ته دننه نه شو تر څو چې په هغې کې شته تصاویر محوه او پاک کړل شول، نو کعبې ته له ننوتلو څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم انکار تر هغه پورې چې هلته شته تصاویر نه وو ړنگ شوي، دا د عبادت په ځایونو کې د تصویرانو د اېښودلو د ترک جازمه قرینه ده، نو دا په مساجدو کې د تصویرانو د تحریم دلیل دی:

احمد له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی چې ویلي یې دي:

**«أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم لَمَّا رَأَى الصُّوَرَ فِي الْبَيْتِ يَعْنِي الْكَعْبَةَ لَمْ يَدْخُلْ وَأَمَرَ بِهَا فَمُحِيَتْ»**

*ژباړه: «کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په بیت الله یعنې کعبه کې تصاویر ولیدل، نو هغې ته دننه نه شو او د هغو د ړنګولو او ورانولو امر یې وکړ او هغه محوه او ړنګ کړل شول.»*

ب: خو که چېرې د بل چا اخیستل شوی تصویران رسم شوي تصویران وي او د عبادت له ځایونو پرته په نورو ځایونو کې د کارولو لپاره یې راوړي وي، نو په دې اړه راغلي دلایل د دغه کار پر جواز دلالت کوي:

- که دغه تصویران په هغو ځایونو کې د کارولو لپاره وي چې د احترام، تعظیم او تجلل لپاره وي، لکه د کورونو پردې، د تحصیلي موسسو اعلانونه، د ښوونځیو او ادارو جامې او خبرتیاوې چې په عبادت پورې تړلې نه وي، یا لکه د خونې په منځ کې (پر دیوالونو) د هغو را ځړول، یا یې اغوستل او یا دې ته ورته نور حالات که څه هم جایز دي، خو دغه ټول کارونه مکروه دي.

- که دغه د بل چا لخوا جوړ شوي تصویران د عبادت له ځایونو او دغه راز د احترام له ځایونو پرته په بل څه کې وکارول شي، مباح دي؛ لکه: د خونې فرش، د څملاستو توشک، د تکیې بالښت یا پر ځمکه انځورونه چې پرې ګرځئ او داسې نو... ټول مباح دي.

د دې دلایل په لاندې توګه دي:

مسلم له ابو طلحه څخه روایت کړی، هغه ویلي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې اوریدلي چې فرمایل یې:

**«لا تدخل الملائكة بيتاً فيه كلب ولا صورة.»**

*ژباړه: ملائکې هغه کور ته نه داخلېږي چې سپی یا تصویر پکې وي.*

او له یوې بلې لارې (د روایت له بلې سلسلې) د مسلم په روایت کې داسې راغلي:

**«إلا رقماً في ثوب.»**

*ژباړه: له هغه تصوير پرته چې په جامو کې نقش شوی وي.*

دا په جامو کې د نقش شوي تصوير د استثنا کولو دليل دی. نو د حديث مفهوم دا دی چې ملائکې هغه کور ته دننه کيږي چې په جامو کې نقش شوی تصوير پکې وي، يعنې رسم شوی تصوير.

په دې معنا چې په جامو کې نقش شوی مستوي (اوار) تصوير جايز دی؛ ځکه ملايکې هغه کور ته دننه کيږي چې په جامو کې نقش شوی مستوي تصوير پکې وي. مګر نور احاديث هم شته چې د دغه ډول جواز په صراحت سره بيانوي:

- بخاري له عائشې رضي الله عنها څخه روايت کړی، هغې ويلي:

**«دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم وَفِي الْبَيْتِ قِرَامٌ فِيهِ صُوَرٌ فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ ثُمَّ تَنَاوَلَ السِّتْرَ فَهَتَكَهُ»**

*ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه ورځ زما خونې ته را دننه شو چې په خونه کې پر پرده تصويران وو، نو د مخ رنګ يې بدل شو، بيا يې د خونې پرده را ښکته کړه او څيرې يې کړه.*

«قرام» يو ډول جامه ده چې هغه مهال د دروازې د پردې په توګه استفاده ترې کېده. د رسول الله صلی الله عليه وسلم د رنګ بدلېدل (له غوسې څخه) او د پردې ښکته کول، د تصوير لرونکې پردې د کارولو پر ترک دلالت کوي. خو کله چې دغه روايت له هغه روايت سره پيوسته شي چې پکې راځي چې ملايکې هغه کور ته دننه کېږي چې تصويران پکې وي «يعنې په جامو کې نقش شوي تصويران»، نو دا پر دې دلالت کوي چې دلته د ترک غوښتنه غير جازمه ده، يعنې دغه کار مکروه دی او بل دا چې دغه تصويران په هغه پرده کې وو چې د خونې پر دروازه را ځړېږي، چې دا يو محترم ځای دی. پر دغه اساس په محترم ځای کې د تصويرانو نصبول او ځړول مکروه عمل دی.

- احمد په خپل مسند کې له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت کوي چې جبرييل عليه السلام، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل:

**«وَمُرْ بِالسِّتْرِ يقْطَعْ فَيجْعَلَ مِنْهُ وِسَادَتَانِ تُوطَآَنِ.»**

*ژباړه: چا ته امر وکړه چې دغه پرده څيرې کړي او دوه بالښتونه ترې جوړ کړي، چې خلک پرې وګرځي را وګرځي (خلک پرې کېني، تکيه پرې وکړي او له پاسه پرې وګرځي)*

له دې څخه واضح کيږي چې جبرييل عليه السلام، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته امر کوي چې پردې له احترام وړ ځايونو څخه لرې کړي او له هغه څخه بالښتونه جوړ کړي چې ناسته ولاړه پرې وشي؛ نو دا په دې معنا چې په هغو ځايونو کې د انځورونو کارول مباح دي چې محترم نه ګڼل کيږي.

- **د پنځمې او شپږمې پوښتنې په اړه:**

❖ د خلکو یا حیواناتو د رمزونو (نښو/علامو) رسمول (د بېلګې په توګه: په لاره کې د رهنمایی نښې او علامې لکه پر سرک د پلیو خلکو د پورې وتلو علامه، یا د اورلګېدنې پر مهال د خروجي دروازې علامه، یا لکه پارک ته له ځان سره د سپیانو د نه داخلولو علامه).

❖ د انسان یا حیوان د وجود د غړو انځورول (د بېلګې په توګه: د شعار په توګه د روغبړ (لاس ورکولو) تصویر، یا د شهادت د ګوتې تصویر، یا د اس د سر تصویر...).

د دغو دوو پوښتنو ځوابونه په دې توګه دي:

که دغه رمزونه او علامې داسې انځور شوي وي چې د داسې شي تصویر ښيي چې هغه ذیروح وي، نو حرام دي؛ ځکه په احادیثو کې د حرام ګرځول شوي تصویر وصف د هغې ذیروحوالی دی او دا وصف پر بشپړ تصویر، نیم تصویر او یا د هغه سر پر تصویر تطبیقېږي چې د وجود له ښکاره غړو سره پیوسته وي لکه لاسونه او ورته نور شیان.

خو که دغه علامې د ذیروح تصویر نه وې؛ لکه یوازې د لاس رسم، یا د ګوتې نښه چې یوه شي ته اشاره کوي، یا د دوو لاسونو تصویر چې له یو بل سره مصافحه (روغبړ) کوي او دې ته ورته نور تصاویر حرام نه دي او د تحریم دلایل پرې نه تطبیقېږي.

خو یوازې د سر رسم (تصویر) چې د وجود له ښکاره غړو سره تړلی نه وي، په دې کې فقهاء اختلاف لري او هغه نظر چې زه ورته ترجیح ورکوم دا دی چې د سر هغه تصویر چې د وجود له هیڅ غړي سره اتصال و نه لري حرام نه دی. ځکه هغه احادیث د دې دلیل دی چې د مجسمې د سر پرې کولو ته جواز ورکوي څو د ونې د تنې په شان پاتې شي، لکه د ابوهریره رضی الله عنه حدیث چې جبرئیل علیه السلام پکې پیغمبر صلی‌الله سبحانه و تعالی ته وایي چې د مجسمې چې کله سر پرې شي، نو حرام نه دی.

«**فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ يُقْطَعْ فَيُصَيَّرَ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ...**» (رواه احمد)

*ژباړه: د کور په دروازه کې د تمثال (مجسمې) د سر پرې کولو امر وکړه، تر څو هغه د ونې د تنې په څېر شي.*

د دې حدیث معنا دا ده چې یوازې سر او له سر پرته یوازې نوره تنه، هر یو یې جلا حرام نه دي. داسې نه شي ویل کېدی چې عدم تحریم د مجسمې د تنې لپاره دی چې سر یې پرې شوی وي، خو پخپله پرې شوی سر حرام دی؛ ځکه جبرئیل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امر وکړ چې د مجسمې سر قطع کړي، په دې معنا چې د سر قطع کول جایز دي او څه چې د سر پر پرې کولو مرتب کېږي، هغه هم جایز دي.

باید یادونه وشي چې حنبلي او مالکي فقهاء یوازې د سر پاتې کېدل جایز ګڼي او شافعي فقهاء په دې کې اختلاف لري، ډېری شوافع فقهاء یوازې د مجسمې د سر پاتې کېدل حرام ګڼي او لږ شمېر یې جایز بولي.

- **او د وروستیو دوو (اومې او اتمې) پوښتنو په اړه:**
  - ❖ د اشخاصو او حیواناتو د داسې تصویرانو انځورول چې له واقعیت سره شباهت ونه لري (کارتون).
  - ❖ د داسې خرافاتي کیسو او حکایاتو رسمول چې په واقعیت کې هیڅ شتون نه لري.

د دغو دواړو پوښتنو ځواب دا دی چې: که دغه تصاویر پر ذیروح موجود دلالت کوي که څه هم د هغه اصالت ته ورته نه وي او له واقعیت سره یې شابهت نه لري، حرام دي؛ ځکه د تحریم نصوص پرې د تطبیق وړ دي. د مسلم په روایت شوي حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم عائشې رضي الله عنها ته امر کوي چې پر دروازه راځړېدلې پرده لرې کړي؛ ځکه په هغه پرده کې د وزرونو لرونکو آسونو انځورونه وو، په داسې حال کې چې د وزرونو لرونکي آسونه په واقعیت کې شتون نه لري:

**«قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ وَقَدْ سَتَرْتُ عَلَى بَابِي دُرْنُوكًا فِيهِ الْخَيْلُ ذَوَاتُ الْأَجْنِحَةِ فَأَمَرَنِي فَنَزَعْتُه.»**

*ژباړه: رسول الله علیه وسلم له سفره راوګرځېد او پر دروازه مې درنوک (یو ډول جامه/ پرده) را ځړولې وه چې په هغې کې د وزرونو لرونکي آس انځور و، نو ما ته یې د هغه د لرې کولو امر وکړ او ما هم لرې کړه.*

**دویم: د هغو تصاویرو په اړه ځواب چې سیوری لري: مجسمې:**

د ذیروح شیانو مجسمې حرامې دي، په استثناء د ماشومانو د لوبتوکو (نانځکو) څخه. د دې دلایل په لاندې توګه دي:

- احمد له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت کړی دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«أتاني جبريل عليه السلام فقال: إني كنت أتيتك الليلة فلم يمنعني أن أدخل عليك البيت الذي أنت فيه إلا أنه كان في البيت تمثال رجل... فمر برأس التمثال يقطع فيصير كهيئة الشجرة... ففعل رسول الله صلى الله عليه وسلم.»**

*ژباړه: جبرئیل علیه السلام ما ته راغی او ویې ویل، تېره شپه راغلم خو ستا په کور کې د سړي د مجسمې له امله درته را نه غلم، چا ته امر وکړه چې د مجسمې سر قطع کړي تر څو د ونې په څېر شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم همداسې وکړل.*

- او له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه ته یو سړی راغی او ورته ویې ویل: زه داسې تصاویر انځوروم او داسې تصاویر جوړوم، نو په دې اړه ما ته فتوا راکړه، هغه (ابن عباس رضي الله عنه) ورته وویل: ما ته را نږدې شه، نو هغه ور نږدې شو، د هغه پر سر یې لاس کېښود او ورته ویې ویل: په هغه څه به دې خبر کړم چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي دي، له هغه صلی الله علیه وسلم څخه مې اوریدلي چې فرمایل یې:

**«كل مصور في النار، يُجعل له بكل صورة صورها نفس تعذبه في جهنم، فإن كنت لا بد فاعلاً فاجعل الشجر وما لا نفس له.»**

*«هر انځورګر په اور کې دی، هر تصویر چې ده جوړ کړی وي، په هغه کې به ورته سا واچول شي او بيا به هغه تصویر ده ته په جهنم کې عذاب ورکوي. که چېرې ستا له دغه کار څخه چاره نه وي او اړ يې چې ويې کړې، نو داسې وکړه چې د ونې او داسې شيانو شکلونه جوړوه چې روح (سا) نه لري.*

تصوير د هر کس يا شي د څېرې (شکل) کېنل دي، چې مجسمې جوړول هم په تصوير کې راځي او مجسمه او نقاشي هم تصوير دی. رسامي (نقاشي) يا تمثال (مجسمه) تصوير دی چې جمع يې «صور» دی چې په لغت کې «تصاوير» هم ورته ويل کېږي او مجسمې هم پکې شاملې دي.

- دغه راز مسلم روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم، علي رضي الله عنه يوې سريې ته ولېږه او ورته ويې وفرمايل:

**«لا تذر تمثالاً إلا هدمته»** رواه مسلم.

*ژباړه: هيڅ مجسمه بې ړنګولو مه پرېږده (ټولې مجسمې ړنګې او ماتې کړه).*

په دې توګه د ذيروح شي هر تصوير ـ که هغه داسې تصوير وي چې سيوری ولري (مجسمه) او که داسې وي چې سيوری و نه لري، حرام دي.

خو د ماشومانو د لوبو لپاره جوړه شوې رسامي او نقاشي له حرامې رسامۍ او تصوير جوړونې څخه مستثنی دي، لکه: د ماشومانو لپاره د کارتون جوړول يا د ماشومانو د ساتېرۍ، تسليت، خوشحالۍ يا زده‌کړې لپاره خيالي انځورونه ... دا ټول د لاندې دلايلو له مخې جايز دي.

ابو داود له عائشې رضي الله عنها څخه روايت کړی دی چې هغې ويلي:

**«قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ أَوْ خَيْبَرَ وَفِي سَهْوَتِهَا سِتْرٌ فَهَبَّتْ رِيحٌ فَكَشَفَتْ نَاحِيَةَ السِّتْرِ عَنْ بَنَاتٍ لِعَائِشَةَ لُعَبٍ فَقَالَ مَا هَذَا يَا عَائِشَةُ قَالَتْ بَنَاتِى.»**

*ژباړه: «رسول الله صلی الله عليه وسلم د تبوک يا خيبر له غزا څخه راستون شو او د هغې (عائشې رضي الله عنها د خونې) په تاقچه (په ديوال کې د شيانو اېښودلو ژور ځای/ الماری) پرده ځوړنده وه. نو شمال راغی چې پرده يې پورته کړه او د عائشې رضي الله عنها لوبې (نانځکې) يې را برسېره کړې، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دا څه دي اې عائشې؟، هغې وويل: دا زما لوبې دي.»*

دغه راز بخاري له عائشې رضي الله عنها څخه روايت کړی چې ويلي يې دي:

**«كُنْتُ أَلْعَبُ بِالْبَنَاتِ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ...».**

*ژباړه: «د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکې مې له خپلو لوڼو (نانځکو) سره لوبې کولې...»*

يعنې د نجونو په شکل له نانځکو سره.

دغه راز بخاري له ربيع بنت معوذ انصاريه څخه روايت کړی چې:

**«... ونَجْعَلُ لهمُ اللُّعْبَةَ مِنَ العِهْنِ، فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ علَى الطَّعَامِ، أعْطَيْنَاهُ ذَاكَ حتَّى يَكونَ عِنْدَ الإفْطَارِ. »**

*ژباړه: او د هغوی (ماشومانو) لپاره مو د وړيو نانځکې جوړولې، کله چې به له دوی څخه کوم يوه په خوړو پسې ژړل، نو هغه (نانځکه) به مو ورته ورکوله (چې پرې بوخت شي) تر هغه چې د روژه ماتې وخت به را رسېده.*

يعنې ماشومان به مو د روژه ماتي تر وخته په نانځکو بوختول.

له دغو ټولو احاديثو څخه د ماشومانو د نانځکو جواز واضح کيږي، که څه هم د ذيروح مجسمې په څېر وي؛ نو په دې توگه که چېرې د ماشومانو لوبتوکي د مستوي (اوارو) تصاويرو په شکل وي، نو هغه خو په طريقه اولی سره جايز دي.» د ځواب پای.

هيله ده چې په دغه ځواب کې به دې د خپلې پوښتنې ځواب موندلی وي.

**ستاسو ورور عطاء بن خليل ابوالرشته**

**د ۱۴۳۸ د جماديالثاني ۲۰مه**

**د ۲۰۱۷ د جنوري ۱۹مه**